استقلال خپلواکی

www.esteqlaal.net



انارگُل خوستی


یکشنبه ۲۳ مارچ ۲۰۲۵

# خاورې پلورونکی ته وواياست



چی د خوی په شان ساتلی په خپل کور راته دښمن شو

زما خوار نصیب ته ګوره کشر ورور را ته دښمن شو

د دنیا برخه ئي خوښه آخرت را ته قصه شوه

د پردی کافر ملګرئ دا کم زور را ته دشمن شو

ما غیرت وو ورښودلی پت ناموس می ور ګټلی

کور وطن می آزاد کړئ ځوی د مور راته دښمن شو

نه می سر چاته ټیت کړی نه می طمع د چا کړي

په زړو کالیو خوښ وُم نوئ پور راته دښمن شو

جنګیدلی یم په هر وخت چه غلیم طمع د غلا کړه

چی دغلو سره په کور یم، دا پیغور را ته دښمن شو

نن سبا ورښکاره کړم چی ښتن د وطن څوک دی

دا وطن د سمیر کور دئ صبر نور راته دښمن شو


salamwatanam@gmail.com